# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۳۰مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۲۱مه | ۶۱۵مه گڼه


## کتاب

۴ مخ

### بې واکه صورتونه




فیمینېزم کوم پړاوونه طی کړل؟ په لومړي سر کې چې ښځه یوازې د کور وه، بیا ټولنې ته راغله، حق یې تر لاسه کړ او د ټولنې او سیاست په پرمختگ کې یې برخه واخیسته؛ وروسته بیا کوم تغیرات رامنځ ته شول؟ دا هغه پوښتنې دي چې په دې کتاب کې یې تاسو ځوابونه موندلی شی.

### کرنې وزارت: په کابل د لبنیاتو د تر ټولو سترې فابریکې ۸۰ سلنه چارې بشپړې شوې دي



د کابل په ریشخورو سیمه کې د شیدو د پروسس د فابریکې تجهیز او رغنیزې چارې نږدې ۸۵ سلنه بشپړ شوې دي.
دغه فابریکه په ورځ کې د نږدې ۴۰ زره لېتره شیدو د پروسس په وړتیا سره، په یوه وخت کې د اووه ډوله لبني محصولاتو د تولید وړتیا لري. یاده پروژه د مالدارۍ په برخه کې د کرنې وزارت یو له مهمو پروژو څخه دی، چې د کرنې د پراختیا نړیوال صندوق «IFAD» له خوا تمویلېږي.
دغه فابریکه په اته جریبه ځمکه کې جوړېږي. دغه فابریکه د کابل، پروان او لوگر له ولایتونو څخه د شېدو ټولولو له مرکزونو اومه شیدې راټولوي او پروسسوي.
د دې فابریکې د رغنیزو چارو په بشپړېدو او د فعالیت په پیل سره به د یادو ولایتونو د ولسوالیو او کلیو د مالدارانو د شیدو پلور ته زمینه برابره شي او په دغو سیمو کې د لبنیاتو تولید پراخ او د مالدارانو د عوایدو د زیاتوالي لامل شي.

# تر شپږ کلن ځنډ وروسته؛

## ولسمشر غني نن نوماند وزیران د باور رایې اخیستو لپاره ولسي جرگې ته معرفي کوي




۳

### بد توافق تر نه‌توافق غوره دی

۲ مخ

### دلیل قدرت‌نمایی ترکیه در خارج از مرزهایش چیست؟

۲ مخ

### د شینجیانگ ملي لږکي؛ کار او استخدام

۳ مخ

## ناټو: تر ۲۰۲۴ ز کال پورې له افغان امنیتي ځواکونو سره خپل مالي ملاتړ ته دوام ورکوو

ناټو وایي، تر ۲۰۲۴ ز کال پورې به له افغان امنیتي ځواکونو سره خپل مالي ملاتړ ته دوام ورکوي. د ناټو متحدینو په دې اړه ناسته کړې او له افغان سرتېرو سره یې د خپل مالي ملاتړ په اړه خبرې کړې دي.
د ناټو لخوا په خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي چې د ناټو تړون غړو او شریکانو تر ۲۰۲۴ ز کال پورې له افغان امنیتي سرتېرو سره د خپل مالي ملاتړ ژمنه یو ځل بیا تکراره کړه.
د ناټو په اعلامیه کې د دغه تړون د منشي ینس سټولټنبرگ له قوله راغلي: «له افغان ځواکونو سره د افغانستان د امنیت په برخه کې مالي ملاتړ زموږ د ژمنتیا یوه مهمه برخه ده. دا ښیي چې موږ له افغان سرتېرو سره خپلو مالي مرستو ته ژمن یو.»
سټولټنبرگ ویلي چې د ناټو غړو له افغان سرتېرو سره د مالي ملاتړ صندوق له پرانیستل کېدو سره بیا تر ۲۰۲۰ ز کال د اکتوبر تر پنځمې پورې دغه صندوق ته ۳.۲ میلیارډ ډالر ورکړي دي.
بلخوا د افغانستان دفاع وزارت له افغان سرتېرو سره د مالي ملاتړ په برخه کې د ناټو د ژمنې د تکرار هر کلی کړی دی. د دفاع وزارت د ویاند مرستیال فواد امان ویلي: «له افغان سرتېرو سره د ناټو د مالي ملاتړ د ژمنو اعلان د افغان سرتېرو، په وده او پرمختگ کې حیاتي رول لري.»

### د بشري حقونو کمېسیون: طالبان دې د دوحې تړون پر اساس تاوتریخوالی راکم کړي




۵ مخ

### مک ماستر: سیاست رئیس‌جمهور ترمپ در برابر افغانستان نادرست و به ضرر امریکا می باشد



مک ماستر، مشاور پیشین امنیت ملی امریکا می‌گوید که سیاست رئیس‌جمهور ترمپ در برابر افغانستان نادرست است و می‌افزاید که توافق او با طالبان، مشابه به خوش ساختن ادولف هتلر در توافقنامۀ مونیخ که در سال ۱۹۳۸ میلادی صورت گرفت، می باشد.
به‌گزارش واشنگتن پوست، آقای مک ماستر این گفته‌ها را در گفت‌وگوی از راۀ دور در رابطه به کتاب تازه‌اش، بیان کرده‌است. این گفت‌وگو از سوی نهاد الکساندر هامیلتون که یک نهاد جامعۀ مدنی است، میزبانی می‌شد.
او که به شرکت کننده‌گان سخن می‌زد، می‌گوید که با انجام یک توافق با طالبان، ترمپ اکنون از مأموریت (امریکا) تخطی کرده‌است، امنیت امریکا و همکاران افغان را، زیر پرسش برده‌است.
او افزود که با انجام توافق با طالبان، همچنان انگیزه امریکا برای جنگ را صدمه زد. او در ادامه می‌گوید: «راهبرد ترمپ این جنگ را غیرعادلانه می‌داند به‌خاطری که ما هیچ گاهی یک هدف عادلانه را، تعریف نکرده‌ایم.»
او افزود: «این (راهبرد ترمپ) نادرست است. ما قیمت آن را خواهیم پرداخت و ما دوباره آن‌جا (افغانستان) خواهیم بود. ما باید دوباره به آن جا برویم و با قیمت بسیار بالا.»
او تأکید کرد که جنگ، یک رقابت اراده‌هاست و ما خود مان ارادۀ آن را داریم که ادامه دهیم.

Aksos
اکسوس کتاب‌پلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life

دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

دریځ

## بد توافق تر نه‌توافق غوره دی

په دوحه کې د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره پر اصولو او کړنلاره شته اختلاف لا هم نه دی حل شوی او ورسره په افغانستان کې جګړه هم ګرمه روانه ده، چې سولې ته یې ناهیلی زېږولې دي. له دې سره ځینې کسان د سولې د خبرو د ناکامۍ او د کورنۍ جګړې وېره لري. حکومتي چارواکي وايي چې دوی جګړې او سولې دواړو ته تیاری لري او که امریکایي ځواکونه د دوی ملاتړ هم ونه کړي، دوی به مقاومت وکړي او د دې حالت لپاره تیاری لري. هاخوا بیا ناټو له افغان ځواکونو سره تر ۲۰۲۴ کال پورې د مرستو د دوام خبره کړې ده.

که څه هم تر اوسه د سولې په برخه کې شته ناهیلي دومره نه ده چې یو مخ د سولې د خبرو د ماتې تصویر دې ترې واخیستل شي، خو دا وېره یو مخ هم د هېربېدو نه ده چې خبرې به له ناکامۍ سره مخ شي. حکومتي چارواکي درک کوي چې که دا خبرې بریالۍ نه شي، نو د کورنۍ جګړې وېره زیاته ده. که څه هم طالبان فکر کوي چې له امریکا سره له هوکړې وروسته یې په جګړه کې هم نه بایلي او حکومت را پرځولی شي، خو دا نه سمه محاسبه ده او نه هم سمه لاره. لومړی خو امریکا لا هم د حکومت له ملاتړه پوره لاس نه دی اخیستی او د هلمند جګړو وښوده چې دوی به مداخله کوي. له بله اړخه له امریکا پرته ځینې نور هېوادونه شته چې د حکومت تر شا ودرېږي او له طالبانو سره یې د جګړې جوګه کوي. دا دي اوس ناټو دا خبره کړې چې تر ۲۰۲۴ کال پورې به له افغان امنیتي ځواکونو سره مرستې ته دوام ورکوي. دا سمه ده چې طالبان به پیاوړي وي، ډېر بریدونه به وکړي او ښایي په ځینو سیمو کې لوی پرمختګونه هم وکړي، خو دا هېڅکله بریا نه ده او نه به طالبان خپل هدف ته ورسوي. که حکومت هم فکر کوي چې دوی به مقاومت کوي او ځینې هېوادونه به مرسته کوي، دوی هم تېروتنه کوي، ځکه چې د امریکا له مرستې پرته دا حکومت نړېدونکی دی او له شک پرته چې طالبان به پر حکومت ډېر برلاسي وي. یا که د ماتې خبرې ترې لرې شي، د جګړې د دوام تصویر ډېر څرګند دی. خلک غواړي د سولې خبرې بریالۍ شي او دواړه اړخونه توافق ته ورسېږي. که څه هم خلک د ښه توافق تمه لري، خو له سقوط او د جګړې له دوام څخه بد توافق هم غوره ګڼي. هېڅ افغان د جګړې دوام او بیا د نظام سقوط نه غواړي. ټول غواړي چې جګړه ودرېږي او توافق وشي. دا سمه ده چې د نظام په سقوط او د جګړې په دوام کې به د ځینو مشرانو هېڅ زیان نه وي، خو د جګړې د دوام او سقوط اصلي زیان ولس او د دواړو اړخونو اکثریت کسانو ته رسېږي. له همدې امله د جګړې دوام او سقوط د هېڅ افغان انتخاب نه دی. دواړه اړخونه باید درک کړي چې په اوسنیو شرطونو او دریځونو د سولې خبرې نه بریالۍ کېږي او که خبرې بریالۍ نه شي، نو جګړه دوام کوي. له همدې امله دوی باید خپل دریځونه بدل کړي او باید له شرطونو تېر شي، تر نه‌توافق، بد توافق هم غوره دی، ځکه چې که توافق ونه شي، د جګړې دوام او سقوط حتمي دی.

# دلیل قدرت‌نمایی ترکیه در خارج از مرزهایش چیست؟

نویسنده: گونول تول
مدیر مرکز مطالعات ترکیه در موسسه خاورمیانه واشنگتن

ماه گذشته بلافاصله پس از این که مناقشه طولانی مدت در قفقاز جنوبی به جنگی آشکار تبدیل شد، ترکیه به کمک متحد خود در شورای همکاری کشورهای ترک زبان شتافت. ترکیه اسلحه در اختیار جمهوری آذربایجان گذاشت و ظاهراً شبه‌نظامیان خود را هم از سوریه به این کشور اعزام کرد. ادعاهایی که البته آنکارا آن‌ها را رد کرده است.

در حالی‌که بیشتر قدرت‌های خارجی که خواستار آتش‌بس فوری در این منطقه شدند، رجب طیب اردوغان، رئیس جمهور ترکیه از الهام علی‌اف، همتای خود خواست به جنگ ادامه دهد.

قفقاز ظاهراً به جدیدترین عرصه قدرت‌نمایی برای ترکیه‌ای تبدیل شده که دخالت‌های نظامی‌اش از سوریه تا آن سوی مدیترانه گسترش یافته است.

ترکیه در کدام مناطق دخالت نظامی دارد؟

ترکیه در سال‌های اخیر به اقدامات زیر دست زده است:

- سه حمله نظامی به سوریه
- اعزام تجهیزات نظامی و شبه‌نظامیان خود به لیبیا
- اعزام نیروی دریایی به مدیترانه شرقی برای تاکید بر حق حاکمیت خود در منطقه
- گسترش عملیات‌های نظامی علیه حزب کارگران کردستان (پ ک ک) در شمال عراق
- اعزام نیروهای نظامی تقویتی به ادلیب، یکی از آخرین استان‌های سوریه که همچنان بخش‌های بزرگی از آن در دست شورشیان باقی‌مانده است
- تهدید به انجام عملیات نظامی در شمال سوریه به منظور مقابله با «گروه‌های مسلح تروریستی».

ترکیه علاوه بر این در قطر، سومالیا و افغانستان هم حضور نظامی دارد و به منظور حفظ صلح در بالکان، به این منطقه هم نیرو فرستاده است. در سال‌های اخیر ترکیه ردپای نظامی چنان گسترده‌ای از خود در جهان به جای گذاشته که از زمان امپراطوری عثمانی بی‌سابقه بوده است.

هدف ترکیه از سیاست خارجی جدیدش چیست؟

اتکای ترکیه به قدرت سخت برای تامین منافع خود، سنگ‌بنای سیاست خارجی جدید این کشور که از سال ۲۰۱۵ در حال شکل گیری است، را تشکیل می‌دهد.

این استراتژی تازه عمیقاً به چندجانبه‌گرایی بدبین است و ترکیه را ترغیب می‌کند در صورت لزوم یک‌جانبه عمل کند.

به علاوه ضد غرب هم هست و بر اساس آن، از آنجایی که غرب در حال سقوط است، ترکیه باید روابط نزدیک‌تری با کشورهایی مثل چین و روسیه برقرار کند.

این یک استراتژی ضد امپریالیستی است. سلطه غرب بر جهان بعد از جنگ جهانی دوم را به چالش می کشد و خواستار بازنگری و اصلاح موسسات بین‌المللی از جمله سازمان ملل است تا علاوه بر غرب به سایر کشورها هم فرصت ابراز عقیده داده شود.

بر اساس این دکترین جدید، ترکیه کشوری است که توسط دشمنان احاطه شده و متحدان غربی‌اش آن را تنها گذاشته‌اند.

بنابراین، ترکیه باید یک سیاست خارجی کنشگرایانه را دنبال کند که بر استفاده از اقدام نظامی پیشگیرانه در خارج از مرزهایش متکی است.

و این با رویکرد پیشین ترکیه که بر تعامل فرهنگی، تجاری و دیپلوماتیک در روابط خود با سایر کشورها تمرکز داشت، کاملاً متفاوت است. تغییری که حاصل مجموعه‌ای از تحولات داخلی و منطقه‌ایست.

چه تغییراتی رخ داده؟

شکل‌گیری این استراتژی جدید ترکیه از ۲۰۱۵ آغاز شد. وقتی ظهور حزب دیموکراتیک خلق‌ها که طرفدار کردهاست باعث شد حزب حاکم عدالت و توسعه برای اولین بار طی یک دهه اکثریت خود را در مجلس از دست بدهد.

آقای اردوغان برای این که حزبش دوباره اکثریت مجلس را بدست آوردند، با ملی‌گرایان در هر دو جناح چپ و راست ائتلاف تشکیل داد.

آن‌ها وقتی اردوغان مبارزه با شورشیان کرد را از سر گرفت، از او حمایت کردند.

چگونه کردها در مرکز توجه قرار گرفتند؟

درگیری ترکیه با پ ک ک در سال ۲۰۱۳ تا حد زیادی متوقف شد، درست بعد از این که عبدالله اوجالان، رهبر زندانی این گروه خواستار آتش‌بس با دولت ترکیه شد.

هم حزب راست افراطی حرکت ملی و هم ملی‌گرایان نو در جناح چپ، با وجود جهان‌بینی‌های متفاوت خواهان رویکردی سختگیرانه نسبت به مساله کردها هستند. آن‌ها علاوه بر این امنیت ملی در داخل و خارج از کشور را در اولویت قرار می‌دهند و از دیدگاه‌های ضد غرب افراطی حمایت می‌کنند.

آقای اردوغان با پشتیبانی آن‌ها توانست نظام پارلمانی کشور را به ریاست‌جمهوری تغییر دهد و قدرت بیشتری کسب کند.

ائتلاف با ملی‌گرایان و تحکیم پایه‌های قدرت اردوغان عامل کلیدی در شکل‌گیری سیاست خارجی نظامی قاطع و یک جانبه ترکیه به حساب می‌آید.

کودتای نافرجام سال ۲۰۱٦، نقشی اساسی در این فرایند داشت.

کودتاه چگونه روایت را تغییر داد؟

از نظر اردوغان این کودتاه توسط فتح‌الله گولن، روحانی ساکن آمریکا و متحد پیشین او سازماندهی شد، اتفاقی که راه را برای نظامی‌گری ترکیه در سیاست‌های خارجی‌اش هموار کرد. به دنبال این کودتاه اتحاد اردوغان با ملی‌گرایان محکم‌تر شد.

او همچنین به پاکسازی گسترده نهادهای حکومتی از کارکنان مظنون به ارتباط با جنبش گولن دست زد که در نتیجه آن ٦۰ هزار نفر از کارمندان ارتش، دادگستری و سایر موسسات دولتی، اخراج، زندانی و یا از کار تعلیق شدند.

اما جای خالی افراد پاکسازی شده توسط نیروهای وفادار به اردوغان و حامیان ملی‌گرای او پر شد.

کودتای نافرجام همچنین به تقویت روایت ملی‌گرایان که ترکیه را در محاصره دشمنان داخلی و خارجی می‌بیند و غرب را بخشی از مشکل می‌داند، منجر شد. روایتی که اقدامات یک جانبه ترکیه در اعزام نیروهای خود به خارج از مرزهای کشور با اهداف پیشگیرانه را توجیه می کند.

تغییر رویکرد در سوریه

تصمیم حکومت بشارالاسد مبنی بر دادن اختیار تام به کردهای سوریه در شمال کشور به شکل‌گیری منطقه خودمختار کردنشین در امتداد مرز این کشور با ترکیه منجر شد. از سوی دیگر در سال ۲۰۱۴ آمریکا از آسمان برای شبه‌نظامیان کرد که ترکیه آن‌ها را گروهی تروریستی می‌داند، اسلحه فرستاد. همه این‌ها باعث شد ترکیه فکر کند باید به تنهایی دست به اقدام بزند و برای حمایت از مرزهایش نیروهای نظامی اعزام کند.

اردوغان به واسطه پاکسازی‌های خود بسیاری نهادهای دولتی را تخلیه کرد و بازیگران اصلی سیاست‌گذاری خارجی از جمله وزارت امور خارجه را به حاشیه راند. او همچنین ارتش که به درخواست‌هایش برای انجام عملیات‌های نظامی در کشورهای همسایه جواب رد داده بود، را هم تضعیف کرد.

پیش از این کودتاه، او به قصد خود برای انجام یک عملیات نظامی در سوریه به منظور جلوگیری از « تهدید تروریستی» شبه‌نظامیان کرد، در این منطقه اشاره کرده بود؛ اما ارتش ترکیه که از گذشته نسبت به اعزام نیرو به خارج از مرزهای کشور رویکردی محتاطانه داشته، با او مخالف بود.

چند ماه بعد از کودتای نافرجام، اردوغان به آرزوی خود رسید. در سال ۲۰۱٦ ترکیه با هدف مهار نفوذ کردها در شمال سوریه اولین عملیات نظامی خود در این منطقه را انجام داد و دو حمله دیگر هم پس از آن صورت گرفت.

متحدان ملی‌گرای رئیس جمهور که نگران بودند کردها با پشتیبانی آمریکا دولتی مستقل در امتداد مرز ترکیه تشکیل دهند، از این اقدام او استقبال کردند. اردوغان برای مهار نفوذ کردها و خنثی کردن تاثیر حضور آمریکا در سوریه با روسیه همکاری کرد.

چرخش تمرکز ترکیه به سمت لیبیا و مدیترانه شرقی

لیبیا به جولانگاه تازه‌ای برای قدرت‌نمایی ترکیه تبدیل شد. در ماه جنوري، ترکیه برای جلوگیری از حمله نیروهای متحد جنرال خلیفه حفتر، حمایت نظامی خود از دولت فائز السراج، نخست‌وزیر لیبیا که مورد حمایت سازمان ملل است، را افزایش داد.

هدف اصلی ترکیه کسب حمایت دولت سراج در مساله مدیترانه شرقی است که برای متحدان ملی‌گرای اردوغان اهمیت زیادی دارد. ترکیه با یونان و قبرس بر سر حق استخراج انرژی در مدیترانه شرقی و مرزهای دریایی در این منطقه درگیر است. در ماه نوامبر آنکارا در ازای حمایت نظامی از دولت طرابلس با فائز السراج توافق‌نامه‌ای بر سر مرزهای دریایی امضا کرد. هدف اردوغان ترسیم مجدد مرزهای دریایی در مدیترانه شرقی است چون از نظر او مرزبندی کنونی به شکل نامتناسبی به یونان و قبرس که دشمنان اصلی ترکیه به حساب می‌آیند، سود می‌رساند. در این میان، ترکیه با فرستادن ناوهای جنگی به منظور اسکورت کشتی‌های اکتشافی خود در مدیترانه شرقی، تا مرز درگیری نظامی با یونان پیش رفت.

سیاست‌های ترکیه موفق بودند؟

سیاست قاطع ترکیه در سوریه، لیبیا و مدیترانه شرقی به نتایجی که حزب حاکم این کشور انتظارشان را داشت، نرسیده‌اند.

آنکارا نه موفق به خارج کردن نیروهای شبه‌نظامی کرد از مرز خود با سوریه شد و نه توافق‌نامه دریایی با لیبیا و اقدامات در مدیترانه شرقی، وضع موجود در این منطقه که بر ضد ترکیه است، را تغییر داد.

برعکس، دخالت نظامی ترکیه در این مناقشات بر احساسات ضد اردوغان در غرب دامن زد و باعث شد گروهی از بازیگران با هدف مقابله با یک‌جانبه‌گرایی ترکیه و وادار کردن رهبر این کشور به عقب‌نشینی کنار یکدیگر قرار بگیرند.

اما دخالت ترکیه در مناقشه قره‌باغ هم احتمالاً با سرنوشتی مشابه روبرو خواهد شد. حمایت ترکیه از جمهوری آذربایجان، روسیه را به واکنشی قوی‌تر واداشته و به شکل‌گیری جبهه مشترک روسیه و غرب علیه موضع این کشور انجامیده است.

قدم بعدی چیست؟

اما متحدان ملی‌گرای اردوغان می‌خواهند او به مبارزه ادامه دهد. جهاد یایجی، فرمانده سابق نیروی دریایی با این استدلال که یونان قصد حمله به غرب ترکیه را دارد، از اردوغان خواست هرگز با آتن پای میز مذاکره ننشیند.

رئیس‌جمهور هم ظاهراً چاره‌ای جز گوش دادن به حرف او ندارد. با کاهش محبوبیت اردوغان در نظرسنجی‌ها، تسلط ملی گرایان بر سیاست‌های داخلی و خارجی افزایش خواهد یافت.

## حکومتي مرکچي پلاوی: له طالبانو سره د اختلافي مواردو د حل په موخه کوچیني ټیمونه جوړ شوي

له طالبانو سره د افغانستان د اسلامي جمهوریت مرکچي پلاوی وايي چې له دې وروسته د سولې مذاکراتو د تګلارې د اختلافي ټکو په تړاو بحثونه به په کوچنیو ټیمونو کې ترسره شي.

د دغه پلاوي غړي رسول طالب ویلي، طالبانو په دې وروستیو کې وړاندیز کړی چې کوچني ډلې دې جوړې او د مشخصو اختلافي ټکو د حل پر سر دې کار وکړي.

طالب زیاته کړې: «له هر لوري درې، درې نفره وټاکل شول او درې ورځې کېږي چې دغه پلاوي پر اختلافي ټکو بحثونه پیل کړي دي، بحث دوام لري او غواړم څرګنده کړم، چې په تماس ډلو کې هېڅ بدلون نه دی راغلی او خپل کار ته دوام ورکوي».



نوموړي دغه راز ویلي چې په کوچنیو ټیمونو کې بحثونه رالنډېږي او د کار په بهیر کې چټکوالی راځي. طالب زیاته کړې چې تمه کېږي په نوې بڼه د بحثونو په نتیجه کې د اختلافي ټکو لپاره د حل لاره ومونده شي او د سولې د مذاکراتو د اجنډا په اړه د بحث کولو لپاره به لاره هواره شي.

د حنفي فقهې په اساس د مذاکراتو په جریان کې د احتمالي لانجو حلول او د دوحې د تړون په اساس د دغو مذاکراتو پرمخ وړل، د افغانستان د اسلامي جمهوریت او طالبانو د مرکچي پلاوو ترمنځ د اختلاف عمده ټکي بلل کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې د سولې بین‌الافغاني مذاکرات د سپټمبر په ۱۲مه په رسمي ډول د قطر په پلازمېنې دوحه کې پیل شول او د دغو مذاکراتو د پرمخ وړلو لپاره د تګلارې په جوړولو کې د اختلافاتو له امله په خبرو کې هیڅ پرمختګ نه دی شوی. په ورته مهال، طالبانو بیا تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي.



# د شینجیانګ ملي لږکي؛ کار او استخدام

ژباړه: **یاسمین**
د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې خبریاله

د لوېدیځ ځینو فکري ټولنو په دې وروستیو کې د راپورونو په خپرولو سره وویل، چې د چین په شینجیانګ کې پر ډېرو وګړو باندې جبري کارونه کیږي او ځینې لوېدیځ سیاستوال په شینجیانګ کې د تش په نوم د جبري روزګار ادعا د مطرحولو په هڅه کې دي. ایا په شینجیانګ کې رښتیا هم داسې وضعیت دی؟ د شینجیانګ د پرمختګ څېړنیز مرکز اړوندو کارپوهانو ته بلنه ورکړې، څو د شینجیانګ د ملي لږکیو د کار او استخدام د وضعیت په اړه پلټنې وکړي.

څېړنیزې ډلې د شینجیانګ له ایلي، قاراماي، کاشغر، ختن، قزیلسو، یاقسو او شخنزه، د بیجېنګ او تیان جین د څه باندې ۷۰ تصدیو، کرنیزو همکاریزو ټولنو او شخصي شرکتونو څخه لیدنې کړې او د لیدنو په ترڅ کې یې د تصدیو د اداره کوونکو، کارکوونکو، د شخصي شرکتونو د خاوندانو او د ملي لږکیو په ګډون، له ۸۰۰ کسانو سره خبرې کړې دي، له ۲۰۱٦ کال څخه راپدېخوا ۲٦ خپاره شوي حکومتي سندونه او له ۲۰۰۵ کال راهیسې ۴۸ خپرې شوې علمي مقالې یې څېړلې دي. د تر لاسه شویو معلوماتو او څېړنو له مخې، دا ښيي چې د شیجیانګ او د چین د نورو ولایتونو او ښارونو د بېلابېلو کچو ادارو او اړوندو تصدیو په فعاله توګه د کار او استخدام په چارو کې د شینجیانګ له ملي لږکیو سره مرستې کړې دي او د ځايي بېلابېلو قومونو د خلکو د کار او د پرمختګ حق یې ساتلی دی، د بېلابېلو قومونو خلک په خپله اراده او خوښې کار کوي او د خپلو دندو ازاد انتخاب کوي او یا خپلې چارې پر مخ وړي، نو په شینجیانګ کې په لویه پیمانه د جبري کار ادعاوې ناسمې دي. د لوېدیځو فکري ټولنو ځینې نظریې غلطې او نامناسبې دي او د دوی استدلال او تحلیل هېڅ اساس نه لري.

د یادې څېړنیزې ډلې لخوا په خپور شوي راپور کې راغلي چې د شینجیانګ د بېلابېلو کچو حکومتي ادارو د کار او استخدام لارښوونکې ډلې جوړې کړې دي. حکومتي ادارو په نورو سیمو کې د ځايي وزګارو کسانو د کار او استخدام د ترتیباتو په چارو کې تل د دغو کسانو د ارادو او خوښې درناوی کړی او کوي یې او لومړی له دوی څخه د کار د موقعیت، د مسلکي ډولونو او مشخصو دندو او د روزنې د اړتیاوو په اړه د علاقې او نظر پوښتنې کوي. دغه کسان په خپله خوښه نومونه ثبتوي او بیا په روزنو کې ګډون کوي. هغه کسان چې د خپل روغتیايي حالت له امله کار نه غواړي، غوښتنه یې منل کیږي او درناوی یې کیږي.

نوموړې ډلې د شینجیانګ د ملي لږکیو له خلکو سره په خبرو کې په دې اړه په ژوره توګه احساس کړې، چې دغه کسان د دندو د ضمانت په برخه کې حکومتي مرستې او همکارۍ ته اړتیا او تمه لري. په کاشغر او ختن کې د ملي لږکیو له ۲۰۰ بزګرانو څخه شوې پوښتنې د دې ښودنه کوي، چې زیاتره ځايي بزګران هیله لري چې ځايي حکومتي اداري د دندو د ترتیباتو په برخه کې باید له خلکو سره مرستې وکړي.

هر کال د شینجیانګ د بېلابېلو کچو حکومتي ادارو د ځايي خلکو لپاره د دندو د مسلکي مهارتونو په روزنه کې ډېره پانګونه کړې ده. د شمېرنې له مخې، له ۲۰۱۴ کال څخه تر ۲۰۱۹ کال پورې په شینجیانګ کې ٦ میلیونو ۹۵۷ زرو کسانو د مسلکي مهارتونو په روزنو کې ګډون کړی، ۳۷۹ زرو او ۴ سوو کسانو خپلې چارې ښې پر مخ وړې او ۸۲۷ زره او ۴ سوه کسان پر دندو ګومارل شوي دي.

په نوموړي راپور کې ویل شوي چې د حکومت په مرسته د ملي لږکیو زیاتو خلکو د خپلې خوښې دندې تر لاسه کړې دي. له ۲۰۱۴ کال څخه تر ۲۰۱۹ کال پورې د دندو لپاره د شینجیانګ له کلیو څخه نورو سیمو ته د تلونکو کسانو شمېر ۱٦ میلیونو او ۵۷۰ زرو ته رسیدلی دی.

# تر شپږ کلن ځنډ وروسته؛

## ولسمشر غني نن نوماند وزیران د باور رایې اخیستو لپاره ولسي جرګې ته معرفي کوي




له پوره شپږ کلن ځنډ وروسته نن لومړی ځل دی چې افغان حکومت په یوه ځل ټوله معرفي شوې کابینه د باور رایې اخیستو لپاره ولسي جرګې ته ورپېژني. ټاکل شوې چې نن ولسمشر غني په خپله د ده او ډاکټر عبدالله عبدالله لوري معرفي شوي وزیران ولسي جرګې ته د ور وپېژني. په دې سره هڅه کېږي چې د سرپرستۍ دود ختم شي، څو د رایې ورکولو، د نوماند وزیرانو د اسنادو، وړتیاوو او تخصص په اړه لا هم اندېښنې شته دي. بلخوا څارونکي بنسټونه بیا له ولسي جرګې غواړي چې وکیلانو ته یوازې د دوی وړتیا ته په کتو رایه ورکړي. د ولسمشر غني په مشرۍ د ملي یووالي په تېر حکومت کې په کابینه کې د سرپرستۍ دود تر پایه پر خپل ځای و، خو دا لومړی ځل دی چې په شپږو کلونو په یوه ځل ټوله کابینه د باور رایې د اخیستو په موخه ولسي جرګې ته ور معرفي کېږي. ولسمشر غني به نن په خپله ولسي جرګې ته ځي او په ځانګړو مراسمو کې به نوماند وزیران ولسي جرګې ته ور پېژني. بلخوا په ولسي جرګه کې بیا وزیرانو ته د رایې ورکولو لپاره د یوه مشخص میکانېزم نه موجودیت اندېښنې پارولې دي. پر ټاکنو څارونکي بنسټونه وایي چې په ولسي جرګه کې دې وزیرانو ته د رایې ورکولو لپاره یو روښانه او کارنده میکانېزم رامنځ ته شي، څو په دې توګه شفافه او ځواب ویونکې کابینه جوړه شي.

بلخوا په ولسي جرګه کې بیا د نوماند وزیرانو په اړه ګڼې اندېښنې موجودې دي. یو شمېر وکیلانو ویلي چې د کابینې ګڼ غړي دوه تابعیته لري او تر دې دمه یې له بهرنۍ تابعیت لاس په سر شوي نه دي. همدا راز د ځینو نورو نوماند وزیرانو په اسنادو کې هم ستونزې موجودې دي چې ښايي ولسي جرګه دوی ته د باور رایه ور نه کړي. د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ هم وایي چې یو شمېر وکیلان دوه تابعیته لري چې د ولسي جرګې غړي باید دې مسئلې ته متوجه وي او له تېرو تجربو په استفادې دې د نورو هېوادونو تابعیت لرونکو وکیلانو ته د باور رایه نه ورکوي. د فیفا او ولسي جرګې د اړیکو مسوول عبدالباقي رشید وایي: ((ولسي جرګه باید ډاډ ترلاسه کړي چې نوماند وزیر په بریالیتوب سره د اړوند سکتور مخته وړلو لپاره کافي تجربه او وړتیا لري او په دې برخه کې د هر ډول سرسري تېرېدنې مسوولیت په ولسي جرګې پورې اړه لري)).

د ده په خبره، پخوا هم ولسي جرګې یو شمېر داسې وزیرانو ته د باور رایې ورکړې دي چې هغوی دوه تابعیته لرل او د دندې تر ختمېدو وروسته یې بېرته هغه هېوادونو ته تللي او ملت ته د حساب ورکولو لپاره ځان مسوول نه بولي. له دې سره جوخت په ولسي جرګه کې د مصلحتونو د موجودیت په اړه هم اندېښنه څرګنده شوې او د فیفا مسوولینو له وکیلانو غوښتي چې له هر ډول مصلحت پرته دې یوازې د وړتیا پر بنسټ نوماند وزیرانو ته د باور رایه ورکړي. د دوی په خبره: ((خلک تمه لري چې ولسي جرګه له مقطعي مصلحتونو او قومي، سمتي، ټیمي او ژبنې لیدلورو تېر شي او ځواب ویونکو، په کار پوه، باکفایته او وړ نوماند وزیراتو ته د باور رایه ورکړي)).

د فیفا مشر هم ولسي جرګې ته د نوماند وزیرانو د معرفي کولو اقدام ستایي او په خبره یې، دا پروسه به حکومت د قانونیت لور ته بوځي او د فساد په له منځه وړلو کې به هم اغېزناک تمام شي.

ولسمشر غني داسې مهال ولسي جرګې ته خپله کابینه ور معرفي کوي چې وکیلانو وار له مخه د ځینو وزیرانو د جرمي دوسیو، دوه ګونو تابیعتونو، تحصیلي اسنادو او وړتیاوو په اړه اندېښنه څرګنده کړې ده. ورمه ورځ د ولسي جرګې غړو ویلي وو چې له یادو نوماند وزیرانو ځینې جرمي دوسیې لري او ځینې دوه تابیعته دي. وکیلانو همدا راز د ځینو وکیلانو او نوماند وزیرانو ترمنځ د معاملې ادعا هم کړې ده او په خبره یې یو شمېر نوماند وزیران د معاملې له لارې هڅه کوي ځان واک ته ورسوي او د باور رایه خپله کړي.

# روسیه: چمتو یو چې له امریکا سره د اټومي وسلو د کنټرول تړون یو کال نور هم وغځوو



روسیې د امریکا متحده ایالتونو ته وړاندیز کړی چې دواړه هېوادونه دې د یو بل کال لپاره د خپلو اټومي کوپړیو شمیر نه زیاتوي تر څو د دغو دوو زبرځواکونو ترمنځ د اټومي وسلو د کمولو تړون چې په راتلونکي کال کې پای ته رسیږي، وغځول شي.

د روسیې د بهرنیو چارو وزارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي، مسکو د «نوي پیل» په نامه د اټومي وسلو د کمولو د تړون د یو کلن غځولو وړاندیز کړی او تیار دی چې د امریکا له متحده ایالتونو سره سیاسي ژمنو ته مخه کړي او دواړه خواوې خپلې اټومي کوپړۍ کنګل کړي، خو دغه وزارت بیا هم ویلي چې له دغه وړاندیز سره هغه وخت موافقه کوي چې د امریکا متحده ایالتونه بله غوښتنه ونه لري.

دا په داسې حال کې ده چې د روسیې جمهور رییس ولادیمیر پوتین، تېره اونۍ د دغه تړون د یو کلن غځولو وړاندیز وکړ چې موده یې د راتلونکي میلادي کال د فبرورۍ په میاشت کې پای ته رسیږي، خو سپینې ماڼۍ ویلي چې د روسیې دغه وړاندیز د اټومي کوپړیو د شمېر له کنګل کولو پرته د اجرا وړ نه دی.

له دې سره سره، سپینې ماڼۍ ویلي چې د دغه تړون د یو کلن غځولو په صورت کې به د اټومي وسلو د کنټرول د راتلونکې پر سر مذاکراتو ته زمینه برابره شي.


روسیه د امریکا متحده ایالتونو ته دا وړاندیز داسې مهال کوي چې دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې د بل هر وخت په پرتله ترینګلې شوې دي. تېر کال د یادونو دواړو هېوادونو ترمنځ د منځني واټن ویشتونکو توغندیو هغه تړون هم له منځه ولاړ چې له مخې یې امریکا او روسیه اړ وو چې د یادو وسلو له جوړولو ډډه کوي. امریکا پر روسیې تور پورې کړ چې یاد تړون یې څو ځله نقض کړی، نو دوی هم اړ نه دي چې دغه تړون ته ژمن پاتې شي. خو روسیې بیا د امریکا دغه ادعاوې رد کړې او ټینګار یې کړی دوی تړون ته ژمن وو، خو امریکایي لوری د نورو تړونونو په څېر له دغه تړون نه هم په غیر مسووولانه او یو اړخیزه توګه وتلی دی.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### لومړی برخه
### د استخباراتو تصادفي مشر




### ۲
### د استخباراتو تصادفي مشر

سېنها: جنرال صېب تاسې څنگه تر ISI پورې ورسېدی؟ له ښاغلي دولت سره له کتنې وړاندې، ستاسې ترمنځ کوم یوه کله د مقابل لوري د استخباراتي اداري مشران لیدلي وو؟ د بېلگې په توگه، داسې تصور مو کاوه چې هغوی به ښکر او لکۍ لري؟

دوراني: استخباراتو ته زما راتگ تصادفي و. زه د دغه کار لپاره نه وم روزل شوی. زه د پوځ یو معمولي افسر وم، چې د پام وړ سابقه مې درلوده. د لومړي ځل لپاره چې د ISI په نوم د اداره له لوري رهبري شوم، هغه مهال زه ډگروال وم او له (۱۹۸۰-۱۹۸۴ . ز)پورې په لوېدیځ جرمني کې زموږ سفارت ته د دفاعي اتشې په توگه ولېږل شوم. که څه هم دا پوست پرانیستی دی. پوهېږې چې د دغه پوست لپاره بلاخره زما سپیناوی چا وکړ؟ زه په (the Command and staff college) کې استاد وم او دا زموږ لپاره یو عالي موقف و. کله چې زه د جرمني د پوست لپاره وټاکل شوم، باید د بېلابېلو ادارو له لوري مې تایید شوی وای. د یوې اداري استازي د لاهور په ماډل ټاون کې زما د خسرخېلو کور ته ورغلي وو، چې زما په اړه پوښتنه ترې وکړي. په کور کې یې څوک نه وو، نو دوی د گاونډي څوکیدار ته ورغلي وو او ورته ویلي یې وو: دا څنگه سړی دی؟ هغه ورته ویلي وو چې ښه سړی دی. په همدې سره ما شین څراغ ترلاسه کړ او زه همېش وایم چې زما د گاونډیانو څوکیدار داسې سند راکړ چې استخباراتي اداري پسې گرځېدې.

سېنها: که دې خسرخېل په کور کې وی، ښایي دفاعي اتشه نه وای شوی؟

دوراني: ډېر احتمال و. تاسې هېڅکله دا خسرخېل نه شی پېژندلی!

د دفاعي اتشې په توگه زه د ISI له لوري ځارل کېدم، خو ما کومه پټه دنده نه درلوده. ما په جرمني کې جاسوسي نه کوله. کوربنو زه پېژندلم او زه هم ورتلم او معلومات مې ترې اخیستل. زه بختور وم چې پر افغانستان د شوروي تر یرغل وروسته هلته لاړم، ځکه د پاکستان د دریځ له کبله موږ له لوېدیځ سره خورا ښې اړیکې درلودې. له جرمنیانو معلومات ترلاسه کول سخت کار نه و او د ناټو تر اتشه گانو وروسته ما ډېر معلومات ترلاسه کول. ځینې وختونه حتی زما لپاره ځانگړې معلوماتي ناستې جوړېدې.

پاکستان ته تر راستنېدو وروسته مې ببرته د افسر په توگه کار پیل کړ. د ضیا الوتکه ولوېده او د پوځ نوي مشر جنرال میرزا اسلم بېگ چې ما کار ورسره کړی و، زه د پوځي استخباراتو مشر کړم. دا بیخي تصادفي پېښ شول.

ISI ته ورتگ هم تصادفي و. د (۱۹۹۰ . ز)کال په اگېسټ کې د بنظیر بوټو تر گوښه کېدو وروسته، دوی غوښتل چې دا څوکۍ پر یو چا ډکه کړي، تر هغو چې مناسب کس ورته پیدا کوي. یوازې له دې کبله چې ما دوه کاله په پوځي استخباراتو کې د دې څانگې د مدیر په توگه کار کړی و او د جگړې په لومړۍ کربښه کې مې پوځي دندې ترسره کړې وې، هغوی زه وټاکلم. له دې کبله چې د افغانستان، کشمیر او د عراق- کوېټ د کړکېچ په اړه مې هم معلومات تازه وو، دا دنده مې ترلاسه کړه.

ما په ISI کې تقریباً (۱۸ )میاشتې تېرې کړې. کله چې پوځي استخباراتو ته راستون شوم، د هند په یوه باوري راپور کې زه جگړه غوښتونکی معرفي شوی وم. له ما سره په جرمني کې له اتشې پرته ستاسې له اړخه هېڅا هم خبرې نه وې کړې. بهر موږ جگړه غوښتونکي یا بحث کوونکي نه یو، بلکې داسې همکاران یو چې په یوه درېیم هېواد کې کار کوو او ځینې وختونه افکار تبادله او پر نرمو موضوعاتو خبرې کوو.

سېنها: جرمني ته تر تگ وړاندې دې د استخباراتو په تړاو تصور څه و؟

دوراني: هر نورمال انسان که هغه په پاکستان، هند یا بل هر ځای کې وي د « پیریانو» په کاروبارکې له ښکېل کس څخه وېرېږي. مخبر حتماً پر خپل مشر اغېز لري. خدای خبر دی چې دا مخبرین نور څه کارونه کوي، دوی پټ، غلي او مخفي گرځي. له همدې کبله باید پام وشي.


کله چې ما له استخباراتو سره کار کاوه، زه حیران وم. موږ به هېواد ته پېښ گواښونه ارزول، بهرني او یا د بهرنیانو له لوري حمایه شوي گواښونه، او هڅه به مو کوله چې اړوندو ادارو ته خبرداری ورکړو. هغوی ته به مو ویل چې دغه گواښونه د پراختیا په حال کې او خطرناک دي. دا هغه څه نه وو چې ما یې په اړه فکر کړی و، پټ کار و، خو سپېڅلی.

له همدې کبله ما د پاکستان په پوځ کې د استخباراتو قول اردو جوړه کړې وه. دا نظریه له یو څه وخت راهیسې وړاندې کېده، خو ما ورته وویل چې راځئ پلې یې کړو. د استخباراتو بېلابېل اړخونه به د مختصصینو له لوري ارزول کېدل. تر دې وړاندې ځینې شکونه موجود وو او دا وېره بېځایه هم نه وه، د دې برخې مسلکیانو به د مافیا ښه خپلوله او وروري به ترې جوړېده. وروسته به، هېواد خو پرېږده، په شاوخوا کې هر څوک له گواښ سره مخ کېدل. خو زه له دې سره مخکې لاړم.

**دوام لري...**

# بې واکه صورتونه

اکسوس کتابپلورنځی




بې واکه صورتونه د پښتو ژبې د تکړه لیکوال او شاعر ډاکټر اجمل ښکلي اثر دی، چې سمون خپرندویې ټولنې چاپ کړی دی.

موږ په پښتو کې د فیمینېزم تر ډېره یوازې نوم اورو، خو د فیمینېزم په اړه مو په کتابونو او مقالو کې تنده نه ده خړوبه شوې. دلته د فیمینېزم په پېژندنه او فیمنیستي نظریاتو بحث شوی دی. فیمینېزم کله رامنځ ته شو؟ کوم پړاوونه یې طی کړل؟ او تر کومه ورسېد؟ دا هغه پوښتنې دي چې د دې کتاب لیکوال ورته په لومړي سر کې ځوابونه وایي. لیکوال یوازې معلومات نه دي راټول کړي، بلکې هغه یې شنلي او تحلیل کړي هم دي. موخه او هدف یې هم ورته ټاکلی او وروسته یې یوې پایلې ته رسېدلی. د بشر په تاریخ کې له ښځو سره د شوي ظلم جاج یې اخیستی دی. همدارنگه یې ثابته کړې، که د ښځې فکر او نظریې ته درناوی وشي، نو د ټولنې او فرهنگ په وده کې به ستر رول ولوبوي.

پر فرهنگ باندې د فیمینېزم اغېز څه دی؟ دلته لیکوال په دې راسره غږېدلی، چې په سیاست، ژبه، ادب او اقتصاد کې د ښځو اغېز څه ډول دی؟ کله چې فیمینېزم پرمختگ کوي، په فرهنگ کې کوم تغیرات رامنځ ته کېږي؟ په ژبه کې کوم تغیرات رامنځ ته شول؟ او همداسې په ډېرو نورو موضوعاتو مو سر خلاصوي.

فیمینېزم کوم پړاوونه طی کړل؟ په لومړي سر کې چې ښځه یوازې د کور وه، بیا ټولنې ته راغله، حق یې تر لاسه کړ او د ټولنې او سیاست په پرمختگ کې یې برخه واخیسته؛ وروسته بیا کوم تغیرات رامنځ ته شول؟ دا هغه پوښتنې دي چې په دې کتاب کې یې تاسو ځوابونه موندلی شی.

له دوو نړیوالو جگړو را وروسته چې کوم ساینسي تغیرات د موډرنتوب او پرمختگ لپاره رامنځ ته شوي، دغو ساینسي تغیراتو پخپله هم که گټه درلوده، خو څه نا څه تاوان یې هم درلود. د دې کتاب لیکوال په دې برخه غږېدلی او د دې لپاره چې لوستونکی پر فیمینېزم وپوهوي، د ژاک درېدا د پوسټ مډرنیزم افکارو ته یې رابولي او بیا ورته وایي، چې اوس نو په فیمینېزم پوهېدلی شي. په دې برخه کې به لوستونکی لومړی په پوسټ مډرنیزم څه نا څه پوهېدلی وي او وروسته به په فیمینېزم د پوهېدو لپاره ورته لاره هواره شوې وي. لیکوال لیکي: «فیمینېزم له یوه پلوه په ټولنه کې د ښځې په اړه د شته ذهنیت پر وړاندې رغبت‌ماتې تیوري وکاروله او عملي هلې ځلې یې وکړې او له بل پلوه یې په ادبي، تاریخي او نورو متونو کې د ښځو په اړه د همدغه شته ذهنیت پر بنسټ رغېدلي صفتونه وکاږل او دا متونه یې وشنل او هغه اړپېچن حالتونه یې رابرسېره کړل، چې نرینه ذهنیت جوړ کړي وو.»

ښځمنواله کره کتنه (Gynocriticism) ولې رامنځ ته شوه؟ د دې کره کتنې گټه څه وه؟ له فیمینېزم سره یې څنگه اړیکه لرله؟ استاد لیکي: «ښځه چې د خپل یوه بیالوژیکي او عضوي(اورگانیک) فعالیت په اړه خبرې کوي؛ نو دا به ډېرې مستندې، رښتیا او باوري وي. سړی دا نشي درک کولای یا که یې ژورو ته ځان رسول غواړي؛ نو باید له یوې نوې تجربې تېر شي. خبره چې د ادبیاتو شي؛ نو ښځې چې کوم احساسات ښکاره کوي، هغه نارینه کره کتونکي نشي درک کولای. همدا لامل و چې د (Gynocriticism) یا ښځمنې کره کتنې اړتیا پیدا شوه او ومنل شوه. د ماشوم د زېږون تجربه یوازې د ښځې تجربه ده او کله چې ښځه دا تجربه څرگندوي؛ نو سړی یې هغسې نشي احساسولای لکه یوه ښځه.» په دې برخه کې د کتاب لیکوال لومړی د دې کره کتنې په اړه غږېږي او د ښځمنو لیکوالو د لیک ځینې بېلگې تشریح کوي. همدارنگه د دې کره کتنې د ارزښت په اړه یو بل ځای لیکي: «اوس نو موږ د ښځمنو لیکوالو او شاعرانو د کلمو د انتخاب، د جملو د جوړښت، د موضوعاتو تر غوراوي شا ته همدا د جنسیتي کمترۍ احساس وینو او دا د ښځمنو پنځگرو د سبک لویه ځانگړنه ده، چې ښځمنه کره کتنه یې رابرسېره کوي، ځکه د جنسیتي حقارت کومه تجربه چې په بندو ټولنو کې ښځه کوي، سړی ورسره نه مخبېږي او همدا هغه اړخ دی، چې ښځمنه کره کتنه ورپسې گرځي.»

مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو هم په مناسب قېمت تر لاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | اسانه لمونځ او څلویښت مسنونې دعاوې | محمدعاشق الهي/عبدالله گل ریان | ۵۰؋ |
| ۲ | د ښه ژوند کولو هنر | نصیر احمد کمال | ۸۰؋ |
| ۳ | روغتیا او ښکلا | عبدالولي اعتماد | ۱۰۰؋ |
| ٤ | اجتهاد او تقلید | محمد محمدي کندهاري | ۱۸۰؋ |
| ۵ | زموږ غښتلي | عبدالقیوم معلم | ۱۵۰؋ |
| ٦ | پټه خزانه | عبدالحي حبیبي | ۱۰۰؋ |
| ۷ | جنسي ارواپوهنه | ډېوېډ ام باس/نجیب احمد عزیزي | ۲۸۰؋ |
| ۸ | ستراتیژیک مدیریت | فرید آر ډېوېډ/میراحمد یاد | ۳۷۰؋ |
| ۹ | بریالی فکر | جان مکسویل/اسماعیل آشنا | ۲۵۰؋ |
| ۱۰ | فکري نوښت | قدیرالله تسل | ۱۰۰؋ |
| ۱۱ | ټولنیزې وړتیاوې | تونې باز/جاني خېل سیال | ۱۵۰؋ |
| ۱۲ | ټولنیز نزاکتونه | ذاکر نایاب | ۱۵۰؋ |
| ۱۳ | د نوې سیاست پوهنې بنسټونه | حسین بشیریه/گل الرحمن رحماني | ۲۸۰؋ |
| ۱٤ | د نه ویلو هنر | دیمون زاهار یادس/تاج موسسه | ۱۳۰؋ |
| ۱۵ | د ژوند ۱۳ رازونه چې باید زده یې کړئ | لېوېنکسټون/حمیدالله حمیدي | ۱۰۰؋ |
| ۱٦ | د ځان هڅولو سل لارې | سټېو چاندلر/خوشحال وارث | ۲۲۰؋ |
| ۱۷ | بازار موندنه | برایان ټرېسي/امین جلالزی | ۷۰؋ |
| ۱۸ | د مدیریت هنر | عطا محمد میاخېل | ۱۳۰؋ |
| ۱۹ | مه وېرېږئ پیل یې کړئ | ریچارد برانسون/صفی الله پادشاه | ۱۵۰؋ |
| ۲۰ | د سهار وختي پاڅېدو اغېز | هال الرود/امان الله حنیفي | ۱۷۰؋ |
| ۲۱ | د قدرت ۴۸ قوانین | رابرت گرین/وصیل پیروز | ۱۲۰؋ |
| ۲۲ | د ژوند لوبه | فلورانس اسکاول شین/لعل الدین عاطف | ۲۰۰؋ |
| ۲۳ | هیلې مو پر رښتیا بدلې کړئ | جان مکسویل/امان الله حنیفي | ۲۲۰؋ |
| ۲٤ | له موجه تر اوجه | مسعود لعلي | ۱۰۰؋ |
| ۲۵ | شین سهار | رابېن شرما/محمد نواب خوښ | ۲۵۰؋ |
| ۲٦ | اتومي عادتونه | جیمز کلیر/اسماعیل آشنا | ۲۰۰؋ |
| ۲۷ | بې واکه صورتونه | اجمل ښکلی | ۲۵۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ     اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶.۹۰ |
| € | ۸۹،۶۰ |
| Rp. | ۴۷۵ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰،۶۰ |
| £ | ۹۸،۵۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# د جګړې بدرنګ بیزونه او د ملي شتمنیو د لوټ غمخواره!

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

وروستیو څلورو لسیزو پرله پسې جګړو، ناخوالو، په کور دننه د پردیو اجنډاوو تعقیب، لاسوهنو، نیواک او یرغل په افغان خاوره کې د هر موجود وجود بې تعریفه کړی، هرې رنګینې خپله ښکلاه بايللې، هر خوند خپل رنګ ورک کړی او هر معیار د مروجو او منلو علمي او تاریخي مفاهیمو او ویوکو په خلاف کارېدلی او ورڅخه ناوړه ګټنه شوې.

د بېلګې په توګه، د لومړۍ افغان انګریز جګړې د ملي غزا اتل وزیر محمد اکبر خان بې ګوره، بې لقبه او بې رتبې دی؛ مګر بچه سقاو او د تنظیمي جګړو ټول بدنامان، بلچاران او بګیلان د کابل په لوړو څوکو کې د ګرانبیه مزارونو او زیارتونو څښتنان او یا لکه بدنام او مشهور جګړه‌مار ګیلم جم دوستم مارشال او قوماندان مسعود ملي قهرمان شول.

د افغان تاریخ د ناسور له لسګونو او حتی سلګونو بېلګو، پېښو او تراژیدیو تېرېږو او د لرې او نږدې تاریخ د بېلګو پر ځای به د نن تاریخ، د نن غمیزې او د نن د معیارونو پر بنسټ به د دې کیسې جاج واخلو، چې پېرۍ وروسته هم د تورزن معیار لا ورک دی، د ملي شتمنیو د چور عاملین په رڼو سترګو کې لا پټ دي او جالبه دا ده چې د څو جنګي بیزونو او د امریکایي بوجونو نړوونکي د ملي شتمنیو چور کوونکي، ملي خاینین او د وطن دښمنان بلل کېږي؛ ولې په مقابل کې د ډیورنډ خرڅوونکي، د کونړ بربادوونکي او د افغانانو د وژلو، غلامولو او قتال (لعنتي امنیتي تړون) قراردادیان بیا د وطن خیر غوښتونکي، د ابادۍ ناجیان او د افغان ژغورنې خواخوږي بلل کېږي.

کیسه له هغه ځایه راولاړېږي چې څو ورځې وړاندې طالبانو جګړه د هلمند تر مرکز لښکرګاه راورسوله او په دغه جریان کې یې د افغان ځواکونو ځینې د خارجونې او ستر یرغلیز بیزونه ونیول.

په دې وخت کې قهرجن، دردېدلي او له جګړې کرکه کوونکي او ستړي هلمندي ولس ځینې بیزونه په دې موخه ویجاړ او وران کړل، چې ګواکې بیا د دوی سیمو ته جګړه رانشي، د دوی کلي د واشنګټن او نیویارک د ساتنې د سنګرونو او مورچلو په توګه ونه کارول شي او تر یوې کچې هلته د مېشتو حکومتي چونیو د نظامیانو له ناوړه کردار څخه هم په تنګ او جنګ راغلي وو.

وروسته د دغو بیزونو انځورونه تر ټولنیزو او انځوریزو رسنیو ورسېدل، بېلابېلې شننې پرې وشوې، چا له سره افغان ولس له انسانیته وتلی یاد کړ، د فرید مزدک خراساني عقدیانو بیا افغان ملي هویت وغانده او پښتون قام ته یې پکې ناوړې خبرې او سپکې سپورې وویلې، حتی مشرانو او ولسي جرګې هم دا چاره خیانت او د پنجابي پاکستان هغه دسیسه یاده کړله، چې ګواکې ښیي چې افغانستان به د تنظیمي جګړو او شر- فساد د عاملینو دور ته وګرځي.

دوی ټولو په دې پلمه سوله هسې د وخت ضایع کول وګڼل، د جګړې او اشغال د دوام غوښتنه یې وکړه او د جګړې د امریکایي بیزونو په پلمه یې له طالب، سولې او افغانستان سره خپله کینه او دښمني ښه په جار او جر اعلان کړه.

ما چې کله د یوه مهذب افغان ملت له دریځه د دې خلکو دا پخ، له عقدې ډک او پر کسات او افغان دښمنۍ ولاړ دریځونه هغه هم د ملي ګټو د تالان او چور په غمخوارۍ کې ولیدل، نو دا مې درک کړه چې شل کلن امریکایي نیواک د دې ملت پر ارزښتونو ناتار او غوبل څه چې په باورونو، ارمانونو، ویاړونو او ګډو ملي معیارونو یې هم خپله کرغېړنه او ناولې اغېزه ښیندلې، د دې ملت روح یې فاسده کړې، د اسلامي او ملي دریځ عزمت یې بې سبکه کړی او په ټوله کې د افغان ولس اصلیت او ملي اصالت یې دومره کاواکه، بلواکه، پیکه او کمزوری کړی چې پایله یې د افغان وژنې، واشنګټن ساتنې او اشغال د دوام د څو خاورینو امریکایي بوجونو په سر، د ملي ګټو او ارزښتونو له ستر دریځه خپل ولس غندي، د ډیورنډ او اشغال د ننګ غیرت ترې هېر دی؛ ولې په هلمند کې د جګړې د څو بوجونو نړول ورته په ننګ اوښتي، د طالب د دوحې هوکړه چې د اشغال خاتمه تضمینوي، غندي؛ ولې له امریکا سره د افغان وژنې په تړون عمل غواړي، د پنجاب د زرګونو راکیټونو پر خلاف یې یوه ورځ د پنجاب کابل مېشت سفارت بند نه کړ؛ ولې د ولس کلي، کورونه، بانډې، جوماتونه، هدیرې او حجرې په ۴۸ نیواکګرو بمباروي او په دې وحشتکارۍ کې د جمهوریت پایښت خوندي ګڼي. همدارنګه د سوونو میلیونونو او میلیاردونو کابل واکو غلو کیسه د هوا ګزول دي؛ ولې د غریب او جګړه ځپلي پښتانه په کلي کې د واشنګټن ساتنې بیز یې بیا غوغا تر واشنګټن او اتنه ورسوله.

زه د یوه افغان له دریځه په دې باور یم چې که سوله راغله، نو د افغانانو د وژلو او د پردیو د قوماندې او رهبرۍ ټول بیزونه باید ونړول شي، ویران او ویجاړ دې شي.

ځکه زموږ ولس له دې بدرنګو بیزونو، پاټکونو او غونډونو تل شر لیدلی، سپک شوی پکې، ربړول شوی پکې، له دې بیزونو یې مقدساتو ته سپکاوی شوی، تر امریکایي زندانونو یې زموږ د ولس برخلیک رسولی او که هېڅ هم نه وي؛ د دې خاورینو او بدرنګو بیزونو تر شا د یوه شل کلن یرغل، نیواک، اشغال، بلواکۍ، تپلواکۍ او خیانت اوږده له ربړونو، توپیرونو، فسادونو، ساندو، تراژیدیو او ماتمونو ډکه کیسه پرته ده او دا بدرنګه، بد خونده او ترخه کیسه یوازې د یرغل او اشغال د اثارو په له منځه وړلو سره ممکنه او تړلې ده.

## د بشري حقونو کمېسیون: طالبان دې د دوحې تړون پر اساس تاوتریخوالی راکم کړي



د بشري حقونو خپواک کمېسیون له طالبانو غوښتي چې د دوحې د تړون په اساس په دغه هېواد کې تاوتریخوالی کم کړي.

دغه کمېسیون په غور ولایت کې د تېرې یکشنبې ورځې موټربم چاودنې ته چې ۲۲ ملکي وګړي پکې ووژل شول او ۱۲۶ نور ټپیان شول، په اشارې ویلي چې دا ډول بریدونه د جګړې د قانون خلاف دي او له نړیوالو بشري حقونو څخه سرغړونه ده.

د بشري حقونو کمېسیون په یوې اعلامیې کې ویلي: «کمېسیون له طالبانو څخه غواړي چې د خپلو ژمنو په اساس تاوتریخوالی کم کړي، د ملکي وګړو له وژلو څخه لاس واخلي، د نړیوالې ټولنې او افغانانو د غوښتنې سره سم د یوې اړتیا په توګه هرڅومره چې ژر کېږي اوربند باندې موافقه وکړي.»

دغه کمېسیون همدارنګه ویلي چې د تاوتریخوالي زیاتوالی د سولې روان بهیر ته زیان رسوي او د دې ترڅنګ د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې زیاتوالی د سولې بهیر له خنډ سره مخ کوي.

بلخوا په کابل کې د بریټانیا سفارت هم په افغانستان کې روان تاوتریخوالی «وحشتناک» بللی او په هلمند کې د طالبانو بریدونه او د تاوتریخوالي زیاتوالی یې غندلی دی.

دغه سفارت په یوې اعلامیې کې زیاته کړې: «موږ په هلمند کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړه اندېښمن یو، له ټولو اړخونو څخه غواړو چې د اوربند ټینګېدو په اړه هڅې وکړي.»

دا په داسې حال کې ده چې په قطر کې حکومت او طالبانو د مذاکراتي ټیمونو د تماس ډلو ورمه ورځ یو ځل بیا د اختلافي مسائلو په اړه ناسته کړې ده. د افغانستان د اسلامي جمهوریت د مذاکراتي ټیم غړي او ویاند نادر نادري ویلي چې ورته ناستې او بحثونه به دوام ولري.

د یادونې ده چې ورمه ورځ د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم وویل چې د خبرو پر مېز د امتیاز ګټلو لپاره د تاوتریخوالي پر زیاتوالي باور خطرناکه چلند دی.

## اوچا: روان ۲۰۲۰ ز کال تر دوو لکو ډېر افغانان بې ځایه شوي



د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ اداره یا اوچا وايي، په افغانستان کې په ۲۰۲۰ز کال کې تر دوه لکه زیات کسان په کور دننه بې‌ځایه شوي دي. د دې ادارې د راپور له مخې، دغه کسان د جګړې او سېلابونو په نتیجه کې بې‌ځایه شوي دي.

د اوچا په دغه راپور کې راغلي چې بې‌ځایه شوي کسان د بې‌وزلۍ او جګړو له کبله نه‌شي کولای چې بېرته خپلو کورونو ته ستانه شي. د همدې راپور له مخې، روان کال پنځه لکه او ۷۳ زره افغانان له ګاونډیو هېوادونو (ایران او پاکستان) نه بېرته افغانستان ته راستانه شوي دي. همداراز په ۲۰۲۰ز کال کې شاوخوا شپږ زره افغانان له ترکیې ایستل شوي او بېرته افغانستان ته لېږل شوي دي.

له دې سره د راپور په وینا شاوخوا یو میلیون بې‌ځایه شوي افغانان د روان کال تر پایه بشري مرستو ته اړتیا لري. دا په داسې حال کې ده چې په هېواد کې روان کال پر کرونا ویروس سربېره، جګړې او سېلابونه هم ډېر وو چې له کبله یې ګڼو کسانو ته مرګ ژوبله واوښته او زرګونه نور د خپلو مېنو پرېښودو ته اړه شول.

اوچا دا راپور داسې مهال خپروي چې تر دې وړاندې هم ځینو کورنیو او نړیوالو ادارو په افغانستان کې د بې ځایه شویو ګډوالو د ناوړه وضعیت په تړاو اندېښنې ښودلې او له مرستندویو بسټونو څخه یې غوښتي چې په دې برخه کې دې ژر تر ژره اړین اقدامات وکړي.

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د تلې ۳۰مه | د ۲۰۲۰ د اکتوبر ۲۱مه |۶۱۵مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳ | ۲۵ | ۲۸ | ۲۵ | ۳۲ | ۲۴ |
| ۷ | ۶ | ۱۱ | ۱۱ | ۱۷ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۴۰ | لمر ختل ۰۶:۰۳ | ماسپښين ۱۱:۳۹ | مازيگر ۰۲:۴۷ | ماښام ۰۵:۱۳ | ماخوستن ۰۶:۳۷


## نړۍ



روسیه: چمتو یو چې له امریکا سره د اټومي وسلو د کنټرول تړون یو کال نور هم وغځوو

۳

## تازه شمېرې: د کرونا وبا د مړو شمېر یو میلیون او ۱۲۴ زره او ۶۳۳ کسانو ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر له ۴۰ میلیونه او ۷۵۷ زره او ۹۲۸ ته رسېدلي.
دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه یو میلیون او ۱۲۴ زره او ۶۳۳ کسان مړه شوي او نږدې ۳۰ نیم میلیونه ترې ببړته رغېدلي دي.
د یادو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې د یاد ویروس مثبتې پېښې اته میلیونه او ۴۶۲ زره او ۳۵۷ ته رسېدلي او ۲۲۵ زره او ۳۲۵ نور امریکایان یې مړه کړي دي.
له امریکا وروسته هند د کرونا وبا د اووه میلیونه او ۶۰۳ زره او درې مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ۲۵۱ زره او ۱۲۷ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د یو میلیون او ۴۳۱ زره او ۶۳۵ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او هسپانیا د یو میلیون او ۱۵ زره او ۷۹۵مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي.
ارجنټاین، کولمبیا، پېرو، مکسیکو او فرانسه په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا وبا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## امنیت شورا: ارمانیا او اذربایجان دې ژر تر ژره خپلمنځي اوربند وکړي

د ملگرو ملتونو امنیت شورا پر اذربایجان او ارمنستان غږ کړی چې ژر تر ژره دې خپلمنځي اوربند رامنځته کړي. دې شورا په خپلې وروستۍ غونډه کې د نگورنو قره‌باغ د لانجمني سیمې د وضعیت په اړه بحث وکړ. د امنیت شورا ۱۵ غړو د دواړو لورو ترمنځ د اوربند د رعایت په برخه کې د ملگرو ملتونو د سرمنشي انتونیو گوترش پر غوښتنه ټینگار وکړ.
فرانس پرېس خبري اژانس د یوه ډیپلومات له قوله راپور ورکړی چې وایي، د امنیت شورا ټولو غړو دا ومنله چې په نگورنو قره‌باغ کې وضعیت کړکېچن دی او د دواړو خواوو ځواکونه باید په شا تگ وکړي او اوربند ته غاړه کېږدي. نوی اوربند چې د شنبې په ورځ اعلان شو، په نگورنو قره‌باغ کې د سپټمبر له ۲۷مې نېټې راهیسې د پیل شوې جگړې د پای ته رسولو لپاره دویمه هڅه ده، خو دغه اوربند هم ډېره موده دوام ونه کړ. اذربایجان او ارمنستان تازه پر یو بل د ډزو د بیا پیل تورونه ولگول او دا وېره رامنځته شوه چې ښايي نوی اوربند هم بې‌کومې گټې مات شي. په ورته وخت کې په ملگرو ملتونو کې د روسیې سفیر واسیلي نبنزیا ویلي چې د امنیت شورا په غونډه کې د اوربند د څرنگوالي د څېړنې او تایید پر اړتیا بحث وشو.


## اداره تنظیم امور زندان ها:
## برخی زندانیان، جرایم را از داخل زندان سازماندهی می کنند



اداره تنظیم امور زندانها، از کشف یک فابریکۀ کوچک تولید موادمخدر در یکی از زندان های مرکز خبر می دهد و می گوید که برخی زندانیان، جرایم را از داخل زندان سازماندهی می کنند.
همچنان منابع مسئول می گویند که رهبری قبلی کمیسیون حقوق بشر افغانستان، گزارش ترسیم منازعه را که حدود ۹ سال قبل تهیه و جنایات علیه بشریت در چهل سال گذشته در افغانستان در آن مستند سازی شده، به رهبری جدید این کمیسیون تسلیم نکرده است.
مشرانو جرگه، دیروز شهرزاد اکبر رئیس کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان، فرید احمد شیرزی غوری معاون لوی خارنوالی در امور تحقیق، و خلیل الرحمان متوکل معاون اداره تنظیم امور زندان ها را برای پاسخگویی در مورد وضعیت زندانیان و وضعیت حقوق بشری در محلات سلب آزادی، به این جرگه فرا خوانده بود. محی الدین منصف رئیس کمیسیون تقنین مشرانوجرگه گفت گزارش هایی را دریافت کرده است که زندانیان در وضعیت بد قرار دارند، وضعیت معیشتی آنها خوب نیست و ساختمان های برخی زندان ها نیز قابل استفاده نمی باشند. شهرزاد اکبر رئیس کمیسیون حقوق بشر، در نشست دیروز این جرگه نیز از وضعیت معیشتی زندان در محلات سلب آزاد انتقاد کرد و گفت که وضعیت آنها نامناسب است و کمیسیون حقوق بشر، ۱۳ مورد پیشنهاد را در مورد بهتر شدن وضعیت، به ادارات ذیربط ارایه کرده است. به گفته موصوف، این کمیسیون در حال حاضر در شانزده ولایت، به محلات سلب آزادی دسترسی دارد؛ تا از آن نظارت نماید و ولایات متباقی از طریق تیلیفون نظارت می کند.


## ژوند

## د کیوي حیرانوونکې روغتیايي گټې



کیوي هغه گټوره میوه ده چې د ډېرو گټورو موادو لرلو له امله مو روغتیا ښه ساتلی شي او له بې شمېره عادي او پېچلو ناروغیو مو خوندي ساتي. دا میوه پوټکی ښکلی کوي، سترگې روغې ساتي، د وینې فشار ټیټوي او د زړه روغتیا مو خوندي ساتي. کیوي پر پوټاشیم سربېره، فایبر هم لري چې دا دواړه د زړه روغتیا لپاره ډېر زیات گټور دي. روغتیايي کارپوهان په دې باور دي چې په ورځني ډول د ډېرو پوټاشیم لرونکو خوړو خوړل او د سوډیم د کارونې کچه کمول مو د زړه له بېلابېلو ناروغیو ژغورلی شي. ډېر پوټاشیم کارول د زړه د حملې خطر کموي، د عضلاتو له لاسه ورکولو مخه نیسي، هډوکو کې د معدني موادو تراکم ساتي او په پښتورگو کې د تیږې جوړېدو مخه نیسي. دغه راز له ساه لنډۍ څخه مو هم خوندي ساتي. څېړنو ثابته کړې چې د کیوي په څېر په لوړه کچه ویټامین سي لرونکې میوې د سینې اصغا او ساه لنډۍ په څېر تنفسي ناروغیو لپاره ډېرې گټورې دي.

## خاوند او مېرمن په مالي مسایلو کې د یو بل غوره ملاتړي!



د بریالي خاوند د بریا راز د ځیرکې مېرمنې درلودل دي. خاوند او مېرمن په مالي مسایلو کې د یو او بل د بازو په څېر دي. ډېرې مالي ستونزې د ناخاپي او هغه څه د پېرلو له کبله رامنځ ته کېږي، چې له وړاندې یې په اړه بحث او خبرې نه وي شوې. پیسې زموږ له احساساتو سره تړلې دي. کېدای شي تاسو هم یو وخت د دې لپاره پیسې مصرف کړې وي، څو د یو چا زړه ته لار ومومی او یا هم ور سره سیالي وکړی، بې له دې چې پایلو ته مو یې پام کړی وي. اروپوهانو هغه لارې چارې په گوته کړې، چې په مرسته یې خاوند او مېرمن د نړۍ د نورو جوړو په پرتله د پیسو د ښه مدیریت له کبله ښه او خوښ ژوند لرلی شي. بریالۍ جوړې تر ډېره په خپلو کې په دې اړه مشورې کوي، چې کوم څه د دوی لپاره ډېر اړین دي چې ویې پېرې. د هر څه لپاره ځانگړی پروگرام جوړوي او په داسې ډول مخ ته ځي چې د ناخاپي ستونزو له پیدا کېدو څخه په اسانۍ ځان وژغوري.

عزیزي بانک
Azizi Bank
د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې ښه
عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او گټې لکه: بایومټریک ننوتل-د گوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انگلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنی سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې ښه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینگه کړئ.
www.azizibank.af 1515

